ورځپانه
شریعت
SHARIAT DAILY
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان

شپږم کال ٤٣مه گڼه پرله پسی (٤٢٣) چارشنبه د١٤٢٢ هـ ق کال دربیع الاول (٢٨)
د ١٣٨٠ هـ ش کال دجوزا دمیاشتی (٣٠) د٢٠٠١ میلادی کال دجون (٢٠)

الهی فرمان

ای هغو کسانو چی ایمان یی مو راوړی ولی هغه څه وایی چی په خپله یی نه کوی دالله (ج) په وړاندی دا ډیره بده ده چی هغه څه وائی کوم چی په خپله یی نه کــــوئ (الصف-٢-٣)

ویلیم شنگل تن :-

دامریکا سیاسی او نظامی ملاتړ دربانی اداری ته کوم بدلون نه راوړی

ربانی اوس دروس ، هنداو ایران نه پوځی مرسته ترلاسه کوی

واشنگټن تایمز:
واشنگټن تایمــز په خپله ورستی شماره کی دربانی دشړل شوی اداری په هکله داکتر عبدالله سره دمرکی په ترڅ کی لیکلی چی دربانی اداره دروسیی ، هنداو ایران نه مرستــه او ملاتړ ترلاسه کوی ځکه چی دغــه دری واړه ملکونه دطالبــــانو نه داریږی او په دی اندیښنه کی دی چی دطالبانو نفوذ او رسوخ په ټولو منځنی آســیاکی خپورشی . واشنگټن تایمز لیکی داکتر عبدالله دامریکا نه غواړی چی سیاسی او پوځی ملاتړ ورسره وکړی اودستنگردافع هوا راکټونو په شمول نوری وسلی هم ورکړی مگر دامریکا دملی دفاع دشوراپه نامه دیوی موسسی بوه غړی *ویلیم شنگل تن « ویلی دی چی ربانی اداری ته باید ستنگر راکټو نه ورنکړل شی ، اوکه امریکا دغه راکټونه دوی ته ورکړی دابه ډیره غلطه پالیــــسی وی ځکه دغــه
٤مخ

دپوهنی وزیر دکندهار دجهادی مدرسی په غونډه کی:

ځوانان او تنکی ځوانان دهیواد دراتلونکی جوړونکی دی

کندهار:
دپوهنی وزیر محتـــرم مــلا امیرخان متقی پرون په هغه غونډه کی گډون وکړچی دکندهار ولایت په جهادی مدرسه کی جوړه شوی وه دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ ددغی غونډی په بهیرکی چی دهیواد دجید عالم شیخ الحدیث محترم مولوی
٤مخ

تانگ یانگ یك مقام ارشد کشورچین :

امنیتی راکه طالبان برقرار نموده کشورهای همسایه ازآن عاجز اند

مـردم افـغـانسـتـان با همت والای خـود تعزیرات ملل مـتـحـد رابی اثر خـواهد سـاخت

درافـغـانسـتـان حــالا زمـینهٔ خـوبی برای سـرمـایه گـذاری مـهـیـاگـردیده است

منابع خبری بین المللی:
درافغانستان صلح سراسری برقراراست
این مطلب را تانگ یانگ معــاون کمپنی ماشینری بین المللی جمهوری مـردم چین بیـان داشتـه افـزود، حکومت افغانستان یك صلح سراسری رادرتمام قلمرو خویش قایم نموده از اینرو شرایط وزمینه خوبی برای سرمایه گذاری های خارجی دراین کشور مهیا گردیده است این مقام
ص ٤

ورکشاپ بررسی محیط زیست دایر گردید

کابل :
ورکشاپ پنج روزه بررسی اثرات محیط زیست افغانستان پریروز در شهرکابل دایر گردید . خبر نگار آژانس اطلاعاتی باختر خبرداد، این ورکشاپ به همکاری موسسه انجمن رضاکاران محیط زیست افغانستان یاه سیف » وکمك مالی موسسه کانادا فندبر ای پنج روزدر
ص٤

درغزنی یک مقدار سلاح ومهمات کشف گردید

غزنی:
دراثرسعی و تلاش موظفین بیدار امنیتی ولایت غزنی یك تعداد سلاح ومقدارمهمات درولسوالی واغنز آن ولایت کشف وبدست آمده است . آژانس اطلاعاتی باخترخبر میدهد دراثر سعی وتلاش موظفین
ص ٤

دمجاهدینو په مرکز نوکی ارشادی غونډی جوړی شوی

کابل :
دنوی او زاړه سرک په استقامت دمجاهدینو په قرارگاوو کی دارشادی غونډو په جوړولو سره الهی حکمونه او نبوی «ص» احادیث بیان شول . دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړه نظامی امربالمعروف او نهی عن المنکر ریاست دعالمانو هیات
ص٤

په گردیزکی داوبو له درکه د ډیرو خلکو ستونزی هواری شوی دی

گردیز:
دگردیزښار داوبو رسولو دشبکی په جوړولو سره په تیرکال کی دوه زره شپږسوه کورونی دڅښاك له روغتیا یی او بو څخه برخمنی شویدی .
دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ دپاملرنی خیریه موسسی په
٤ مخ

تفاوت میان بانکنوت های ده هزارافغانیگی وپنجصدافغانیگی رابایدازبین برد

کابل -شریعت:
به منظور بالاگیری ارزش بانکنوت های افغانی درکشور واز میان برداشتن تفاوت بین بانکنوت های ده هزار افغانیگی وپنجصدافغانیگی اخیراً سیمیناری متشکل از نمایندگان ادارات ذیربط امارتی وصرافان مرکزو ولایات درهوتل انترکانتیننتال دایرگردید . خبر نگار ما به نقل ازیك منبع مسوول درزمینه چنین خبر داد:
ص٤

یك زن اختطاف کننده دستگیرگردید

کابل :
یك نفر اختطاف کنند ، پریروز توسط موظفین حوزه نهم امنیتی درمربوطات ناحیه پنجم گرفتارگردید . آژانس اطلاعاتی باخترخبرداد حبیبه بنت سعید محمد با شنده دهمزنگ شهر کابل که پریروز طفل خوردسال بنام صفیه را از ساحه ناحیه نهم اختطاف نموده بود
ص٤

په حربی پوهنتون کی :

یونوی کتابتون پرانیستل شو

کابل:
دحربی پوهنتون کتابتون پرون ددغه پوهنتون دقوماندان لخوا دیوی غونډی په ترڅ کی پرانیستل شو . دباختر اطلاعاتی آژانس
٤مخ

اطلاعیه ریاست نشرات وزارت اطلاعات وکلتور

قابل توجه فرهنگیان ،قلم بدستان وعلاقمندان علم وفرهنگ درکشور: وزارت اطلاعات وکلتور امارت اسلامی افغانستان بنابر توجه دایمی به مطبوعات و فرهنگیان امکانات جدیدی را دراشتراك به مجلات کشور فراهم
ص٤

شارون به ارتکاب جنایات جنگی متهم گردید

بیروت : بازماندگان قتل عام فلسطینی ها درلبنان علیه اریل شارون صدراعظم رژیم صهیونستی اقامه دعوا نموده ووی را به ارتکاب جنایات جنگی متهم کردند. قتل عام مذکور به قوماندهٔ اریل شارون در دوکمپ اواره گان فلسطینی بنام صبرا و شطیلا درد هه شصت صورت گرفت که در آن اضافه از هشت- صد فلسطینی بی دفاع و غیر مسلح توسط نظامیان صهیونست به شهادت رسیدند . شارون درآن زمان بحیث وزیر دفاع رژیم صهیونستی کار میکرد .


عکس : نمایی ازوسایط حامل آرد یکه به خانواده ها مساعدت میگردد . عکاس یوسف

یك موسسه غیر حکومتی برای ١٢٠٠ خانواده درشهرکابل آرد مساعدت نمود

کابل -شریعت:
موسسه رفا سید جمال الدین افغان برای ١٢٠٠ خانواده نیازمند درناحیه سوم شهرکابل مساعدت نمود . خبرنگار مادرزمنیه چنین خبر داد.
موسسه رفا سید جما ل الدین افغان که ١٥سال سابقه خدمت در امور مهاجرین ونیاز مندان افغان داردأینبا ر به سلسله مساعدت های قبلی خویش (جمعه گذشته) ٤٠٠ بوری آرد ١٠٠ کیلویی را درساحه دهمزنگ مربوط ناحیه سوم شهرکابل برای ١٢٠٠خانواده حاجتمند تقسیم نمود .قیامی

مخالفین دربنگله دیش یک اعتصاب عمومی را آغاز نمودند

داکه:
مخالفین حکومت بنگله دیش دیروز به یك اعتصاب عمومی سی وشش ساعته آغاز نمودند اعتصاب مذکور در اعتراض به حمله مسلحانه دو روزقبل بر موتر حامل خالده ضیا رهبر مخالفان وصدراعظم سابق بنگله دیش صورت گرفته است
ص٤

امریکا درتلاش جنگ باستاره گان آسمان است

ماموورین اداره فضایی ایالات متحده امریکا ساختمان یك قمر مصنوعی رامنظورکرده که بایك ستاره دنباله دارتصادم کند . اداره فضایی امریکامیگوید که این قمر مصنوعی بنام «دیپ اتپکت» درسال٢٠٠٤ پرتاب میشود ودرسال ٢٠٠٥ با ستاره دنباله
ص٤

دروسیی جمهور رئیس پوتین :

امریکادی لـه ډالیزنظام نه لاس واخلی

دروسیی جمهور رئیس ولادیمیر پوتین دامریکا متحده ایالاتو ته خبر داری ورکړچی راکټی ضد دفاع دسیستم دعملی کولو په صورت کی به مسکو هم دخپلو اتومی سرونو شمیر زیات کړی . ولادیمیر پوتین له امریکا نی خبریالانو سره په مرکه کی په مسکوکی وویل د ١٩٩٧ میلادی کال دبالستیکی توغندیو ضد ترون په باب له نوی نظرسره موافقه لری خو یو اړخیزتطبیق به یی ونه منی .

اطلاعیه روزنامه شریعت

ارگان نشراتی مرکزی امارت اسلامی افغانستان

روزنامه شریعت به یکنفرآپریترکامپیوترIBM ضرورت دارد شایقین کاربه روزنامه شریعت واقع منزل دوم تعمیر مطابع امارتی مراجعه نمایند .

سرمقاله

دلوی او بښونکی خدای (ج) په نامه

افغان ولس دچادسیاسی لوبو قربانی دی ؟

دامریکی دبهرنیو چارو وزارت په یوه اعلامیه کی چی دری ورځی وړاندی خپره شوه ، دافغانستان په اسلامی امارت تور لگول شوی چی گنی دخپلو خلکو په ژوند سیاسی لوبی کوی او په دی توگه دنړیوالو مرستو په چاروکی خنډ ونه اچوی - که څه هم دا اعلامیه په مشخص ډول په کابل کی د دو دی دکارتونو سروی ته اشاره کوی ، مگر په حقیقت کی داتور په مطلق ډول دغربی خپرونو له خوا ډیر تکرار یږی چی گنایی په افغانستان باندی لگول شوو ناروابندیزونو نه دخلکو
٢ مخ

٢ مخ به افغانستان کی دکورنیو او بهرنیو پانگوالو لپاره گټور فرصتونه

دشریعت رڼا سرزمین مهر

گل کابل دځـوانـی دوارن حقیقی غل ٣ مخ

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج ملا اسدالله «حنیفی»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوي ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کې (۳) کلداری
تیلیفون : ۲۱۳۸۱ توزیع او شکایات :٦۲۸٥۹
پست بکس : (٤۷۱) کابل افغانستان
جاري حساب : ٤۰۳۸٥ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

دسرمقالې پاتې برخه

افغانستان باندې لګول شوو ناروابندیزونو نه دخلکو پام اړو لو په خاطر وی په هرصورت داخو څرګنده خبره ده چې اسلامی امارت د خپل ولس ددین ناموس ، پت او عزت ساتلو مسؤلیت لری او افغانانو په دې لارکې یونیم ملیون شهیدان ورکړي ، ستونزې یې ګاللي او لاهم هرې قرباني ته چمتو دي - دافغانستان اسلامی امارت دخپلو مجاهدوخلکو په استازیتوب هیڅکله دانه شي منلای چې دافغانانو دناموس په معامله کې او هغه هم دیوې مړې دوډ ی لپاره څه سودابازي وکړي -

او داحقیقت ټولې نړۍ ته هم روښانه دی چې افغانانو دهمدغو دیني اوملي ارمانونو لپاره په تیر څوارلس کلن جهاد کې دوخت له یو سترځواک (شورروی اتحاد) سره څومره په میړانه او سربښندنه مقابله وکړه خو هیڅکله یې هم پردي کلتور ته سرونه ټیټ نه کړل - نو په دې اساس اړوندچاروکی داسلامی امارت موجوده دریځ دافغان ولس په عقیده کومه سیاسی لوبه نه بلکی دخپل ناموس نه ددفاع او ساتنی په لارکې دیو مقدس جهاد اوږد تسلسل دی چې دغه مسلمان او توریالی ملت دتل لپاره چمتو والی ورته لری - افغان مومن ولس په دې ښه پوهیږي چې اسلامی امارت ددوی ملی وحدت تأمین کړ ، دتجزیی مخه یې ونیوله او دجګړه ځپلی هیواد بیا ودانی او دخلکو سوکالی اونیکمرغی یې سترارمان دی خو له بده مرغه اوس دبشردهغو درواغجنو خو اخوږو دسیاسی لوبو قربانی دی چې هیڅکله یې هم ددې جګړه ځپلی وچکالی وهلی او تباه شوی هیواد په حال زړه نه سوځی او لګیادی لاهم اقتصادی بندیزونه ورباندې لګوی،لاس پښې یې تړی ، دجګړو اوږ دولو په مقصدلمسونې اولاس وهنی کوی او هیڅکله دانه شي زغملای چې په دې هیوادکې سوله اوثبات راشي اوخلک دآرام اوهوساینې ساواخلی ■ واقعیت دادی چې افغان ولس هغه لوری پژنی چې ددوی دبدمرغی ارمانجن دی ، دوی له خو ږ ګوتی نیسی او په داګه یې عامي بشری مرستی هم له خپلو ځانګړو سیاسی اهدافو سره تړلی دی ■ نو باید یوځل بیا داخبره تکرار کړوچې افغانان دهمدغو چلباز وخواخوږو دسیاسی لوبوقربانی دی اوبس ■

داسلامي نړۍ طبابت ته لنډه کتنه ٥

پوهاند عبد الحی مؤمنی

آنحضرت «ص» پخپله له دعاڅخه هم کار آخیست ، بي بي عایشه «رض» وائي چې داسلام پیغمبر خپل لاس په خوږ ځای باندې ایښود او دتماس په حالت کې هغه ځای باندې ئې لاس خوځاوه او دعابه ئې کوله هغه به ویل خدایه ! درد تری واخله او شفا ورته ورکړه ، ځکه داته ئې چې ناروغانو ته شفا ورکوې ، په جهان کې بیله تا بل څوک سلامتي نشي راولای .

آنحضرت «ص» دزخمونو او دانو په درملنه کې هم له دغې طریقې استفاده کوله چې داطریقه اوس په عصري طبابت کې ډیر شهرت لري . په اوسني عصرکې دتداوي میتود دمساژ په واسطه چې تماس ونلري رواج لري چې ددغې تداوي میتود له همدغه وخته منشااخلي .

دمساژغیر تماسي تداوي یعني دحیاتي ساحې په واسطه تداوي ډیره جالبه طریقه ده ، چې دکستراسنیزیه نامه یادیږي ئې اخیستل شوی لکه دسردرد ، دسترګو درد ، جزام ، جرب،طاعون او تبه چې طاعون ته دجهنم زنځیر هم ویل کیده اوحضرت محمد «ص» توصیه کړې هغه ځای لومړیو کلونو کې لوټي .

همدارنګه داسلام په مقدس دین کې ددې لپاره چې دناروغیو مخنیوی وشي دشرابو څښل او دخوګ غوښې خوړل حرام ګرځیدلي . دغه طریقه چې اوس پوهانو ورته رجوع کړیده څوارلس پیړۍ مخکې دحضرت محمد «ص» له خواترې استفاده شوې وه .

دهغه وخت پیژندل شوي دواګانې عبارت دي له شونیز(سیاه دانه) زیړ صبر ، رانجه (دسترګو درد لپاره) ، شیر خښت ، ایره ، سوی حصیره وینې ددرو لو لپاره اوداسي نور . هغه مرضونه چې نوم کې چې طاعون شیوع موندلې وي مه ورځې اوکه احیاناً یکې ګیرراغلی تری مه تېښتی؟

پورتني یادوني اوډیر زیات طبي مسایل په طب نبوي «ص» کې راټول شوي دي ، چې دهندوستان دلر غوني طبابت محصلین طب نبوي کتاب او دابن سینا دقانون مختصر ه مخیمه (قانونچه) دتحصیل په دي. همدارنګه دغوښې په خوړلوکې افراط هم اغومره ضرر لري لکه چې مسکرات ئې لري .

حضرت محمد «ص» په تل وګړي خیرات او انفاق ته رابلل او پدې ترتیب طب او طبابت نظر ونورو علوموته ډیرو راندی تللي و .

سحراوجادو په اسلام کې مردود دی . وائي چې یوکوډګرحضرت محمد «ص» ته ورغی او دهغه مبارک نظر ئې وغوښت . هغه وفرمایل «زما له نظره لیرې شه او مداواهغوکسانو ته پریږده چې کولای شي خپل وروڼه تداویکړي »که دخلفای را شدینو «رض» او امویانو دوروته نظر و اچوو ویلای شوچې هغه دور دفتحې ، جنګ ، جهاد او داسلام او عربي ژبې دنشرولو عصر په نړۍ کې وبولو په دې دورکې غربي پوهانو دقرآن عظیم الشان ، تفسیر ، حدیث او فقهي باندې مصروف وو او دلرغونو علوموسره ئې کارنه درلودل .

مګردغه فتوحات دعربو یو ځای کیدل او آشنا ئې او پیژندګلوی دنورو ملتونو ددین ، فلسفې ، علومو او دجهان دتمدنونو سره ددې زمینه برابره شوه ترڅوپه آینده کې یو مشترک تمدن منځ ته راشي ■

په افغانستان کې دکورنیو او بهرنیو پانګو الو لپاره ګټور فرصتونه

پوهنیار دپلوم انجینر شریفه

زموږ په هیواد کې دصنعتي پرمختیا او صنعتي اقتصادي موسسو دبیارغونې دپرابلمونو او پدې برخوکې دپانګې اچولو دپاره دموجوده وضعیت دڅیړنې په اړه کافي ارقامو او دهیواد په سطح دټولو ادارو ،تولیدي بیلابیلوموسسو دکتنې او وضعې دتفصيلي څیړنې ضرورت دی . خو دنسبوازي دڅونې په توګه دکابل په ... کې ځینې صنعتي اقتصادي فعالیتونو ته پاملرنه کوو چې له تېر دی نه څیړ شوی او ځیرل پرابلمونه ئې په ګوته شویدي . پدې څیړنیز یادداښت کې دطبي او تخنیکي متمموموادو دتولید شرکت ، د«صنایع افغان »په نوم دصابون جوړولو کارخانه او دارنګه دکابل په ښارکې دقالینو دتولید لاسي صنعت شامل دی چې په لږ څه تفصیل سره دهری برخې ځانګړې یادونه کوو:

۱- دطبي او تخنیکي متمموادو (الکولو) دتولید شرکت :- ددې موسسې دتولیدي فعالیت دپاره داومومواداو په توګه دمیز و دپاتي سورت نه کاراخستل کیږي چې داسورت دهیواد په دننه او بهرکې دخرڅلاو اولیږدونې ورانډې ذکرشوی سورت چې قندي درجه ئې په سلوکې د ۲۰ نه تر ۳۰ پورې رسیږي ، دبازار اوبا دکښمش پاکولو له موسو څخه د ۷ کیلو په بدل کې په ۲٥ زره افغاني (د ۳٤ . . خواوشاه دالرمعادل) رانیول کیږي .

ددې شرکت تولیدي سیسه دوه برخې لري :

الف - دتخمر مجري او یا ټانکونه چې په پاخه او اساسي ډول جوړ شوي دي ، دابرخه دتخمر ۱۸ ځانګړې حجرې لري چې ټولې ئې په یوه نوبت کې ۱۲٦ ټنه اومه مواد دکیمیاوي تخمري تبدیل دپاره ځای په ځای کولای شي دتخمر دعملیې هرنوبت یادوره د ۲۰ نه تر ۲٥ ورځو پورې په برکې نیسي داتولیدي برخه په یوه نوبت کې جمعاً(۳۲۰۰۰) لیتره تخمر شوی مواد دوروستي کاراو دپانیزمحصول تیارولو دپاره چمتو کولای شي. داومومواد وقندي درجې او په تخمر شوی نیمه محصولاتو کې دپانیز محصول داندازې له مخې دهرتخمري نوبت څخه دلاسته راغلو موادو نه د ۳ تر ٤ زره لیتره پورې محصول (طبي او تخنیکي الکول) لاسته راتلای شي نوځکه په همدومره ظرفیت سره دپاکولو تقطیري دستګاه ته ضرورت شته دی .

ب- تقطیری یاد۹٦فیصده الکول دتولیدبرخه :- دجګړو او تخریب دمخه پدې برخه کې څلور مرحله ائي مجهزه تقطیري دستګاه موجوده وه چې دیو**ملیون دالر** په قیمت دایتالیا دهیواد نه پلورل شوې او فعاله شوې وه ، ددې دستګاه په مرسته چې داتوماتیک کنترول او تنظیم په وسایلو مجهزه وه دلستيند ر سره سم داریتیا وړ الکول تیاریدل ،خواوس صرف یو تقطیري برج چې د ۱۲۰۰ دالرو خواوشا په قیمت دمحلي موادواو امکاناتو نه په استفاده جوړ شوی او دتقطیر د عملیې دکنترول او تنظیم حداقل وسایل هم نلري ، پدې برخه کې تری کار اخیستل کیږي . که څه هم دهیواد نی مواد واو امکاناتو نه په دی شرایطوکی کاراخیستل ښه ابتکار دی او د شرکت دفني او تخنیکي ماهرانو دزیات او د... تلاش په وجه داول وخت په پرتله دمحصول په کیفیت کې ډیر ښه والی راغلی ،خوبیا هم له یوې خوا دمحصول دکیفیت په وجه او بل خوا ته داقتصادي دلایلو په وجه دلاسته راغلي محصول دسیالي دپاره په آزاد مارکیټ کې لاتراوسه ورامکانات ندي برابرشوي . په همدې موسسه کې دیو مجهز تقطیري بلاک جوړولو او همدارنګه دمحصول په کیفیت او تام شوی ارزښت کې دمناسب رقابت دقابلیت لوړولو دپاره ځینو ځینې تیز و تدابیرو او تخنیکي امکاناتو دبرابرولو ډیره مناسبه اندازه پانګې ته اړتیا ده ، ددې تدابیرو په لړکې دمحصول دکیفیت معضله نیری کیدای شي او تام شوي قیمت په ډیره اندازه کمیږي دنظري معلوماتو او ارقامو دسنجش له مخې ددې کاري برخې دنورمال اوبی توقفه فعالیت په صورت کې داومومو اودارزښت په نظر کې نیولو سره باید دمحصول تام شوی قیمت دنیو دالرڅخه پورته نشي چه دالر تام شوی ارزښت دی ځکه چې همدا اوس دګاونډي هیواد پاکستان دصنایعو دارتیاوو ډیره دبهرني مارکیټ څخه دتخنیکي الکولو درلیتره ۱.٥ دالرو په بدل کې اخیستل کیږي نوځکه باید زموږ ددې کارخانې محصول زیاته ګټه لاسته راوړي .

۲- : د«صنایع افغان» موسسه :

داموسسه ددولتي سکتور په چوکاټ کې دالنف دی اداره ده چه دکابل پلچرخي په صنعتي سیمه کې دصابون جوړولو په حاضر ومحکی نه جوړه شوی ده داکارخانه په جګ فشارباندې داوبو دبخار جوړولو مجهز سیستم لري او دحرارتي رژیم دکنترول او تنظیمولو په شمول ټول عملیات ئې په اتوماتیک ډول اجرا کیږي دصابون پخولو برخه ئې درې لوی دیګونه لري چې هریو په یوه کاري نوبت کې ۲٤ ټنه ظرفیت لري . دکاردنورمال رژیم په صورت کې دتولید په یوه نوبت یعني د ٥ تر ٦ ساعتونو پورې ټول دیګونه کولای شي ۷۲ ټنه صابون جوړکړي چې پدې ترتیب دیې څنده او ۲٤ ساعته کاري رژیم په صورت کې د ۲۱٦ ټنه صابون جوړولو تولیدي ظرفیت موجوده دی خو ... اوس وخت کې دهمدې کلې ظرفیت نه هیڅ کټ نه اخیستل کیږي . ددې کارخانې وسایل او تجهیزات ټول سالم شوی او همدا اوس په کار اچولو ته چمتو دي همدارنګه دصابون جوړولو ترخنګه دهمدې کارخانې دتولیدي سیمې په محدوده کې دیوټانو جوړولو او موټرانو لپاره دټایرونو روېه کشي تولیدي برخې هم په کافي ظرفیتونو شته او فعالیت ته چمتو دي . ددې کارخانې لویه معظله داومومواد وپرابلم دی چه مخکې له هندوستانه واریدل خواوس دتعزیراتو په وجه دامارت په چوکاټ کې دراکړې ورکړې معاملات دمشکلاتو سره مخامخ دي ، ددې پرابلم دحل لپاره دخصوصي کاروبار دمشبثینو برخې اخیستنې ته ضرورت دی ترڅو داومومو اومعضله دهندوستان او یا کوم هیوادله لارې حل کړي .

بالکان شاهد رویا رویی صرب ها ومسلمانان

پوهنمل نصرالله «ستانیکزی»

شبه جزیره بالکان درجنوب شرقی اروپا یکی از متنوع ترین ترکیبات نژادی، مذهبی وفرهنگی مناطق جهان را دارد وبه خاطر وضع جغرافیائی اش ، همواره مورد هجوم اقوامی که درآسیای صغیر واروپا زندگی کرده اند ، واقع شده است عمده ترین گروه قومی دراین ناحیه اسلاو ها هستند مردمان هندارویائی متعلق به نواحی مرکزی اروپا که از قرن ششم به بعد به این منطقه مهاجرت کرده اند درقرن هفتم بلغارها موفق شدند نخستین دولت بلغار رادر بالکان تشکیل دهند.

ازمیان اقوام ساکن شبه جزیره بالکان ، صرب ها موفق شدند ،حکومت خود را بربیشتر سرزمین های این منطقه بگسترانند وبا فتح اسکوبیه درسال ۱۲۸۲ توانستند تامقدونیه پشیروی کنند .

درقرن چاردهم، ترک ها عثمانی ازراه مقد ونیه به شبه جزیره بالکان حمله کردندسرانجام موفق شد ند در سال ۱۳۸۹ صرب ها را از کوسو و به شکست کامل بکشند وبخش اعظم شبه جزیزه را به تصرف درآوردندحکومت عثمانی ها براین جزیره حدود پنج ونیم قرن طول کشید ، دراوایل قرن نزدهم ، امپراتوری عثمانی از یك سو قدرت های بزرگ جهانی را پیش روی خود داشت واز سوی دیگر ضعف داخلی ، انحطا ط سیاسی واقتصادی وفساداداری ونظامی رنج می بردوانهاهمه نشانه هایی از سقوط آن بود همزمان باتضعیف عثمانی ها و درراستای منافع قدرت های بزرگ بخصوص روسیه وامپراتوری اتریش - هنگری ملت های شبه جزیره بالکان از امپراتوری عثمانی جداشدند ، تااینکه دراواسط قرن‌نزدهم دولت مستقل صربستان درشمال ودولت یونان درجنوب تشکیل شد . دشمنی میان اقوام تحت سیطره امپراتوری عثمانی نیز خود را نمودارساخت ، خصومتی که نقطه اوج آن دراوایل قرن بیستم برسر مقد ونیه بود .

درپایان جنگ جهانی اول دردسامبر ۱۹۱۸ کشوری به نام یوگوسلاوی ، تشکل از پادشاهی صربستان ، کرواتهاواسلوونی ها پایه عرصه وجود نهاد ، این کشور سرزمین های متعلق به امپراتوری اتریش هنگری سابق یعنی اسلوونی ، کرواسی ، ویوودینا ، دلاماس ، بوسنی ، هرزگوین هم چنین پادشاهی های مونته نگرو صربستان از جمله مقدونیه وکوزورا دربرمی گرفت درسال ۱۹٤۱ درکبرودار جنگ جهانی دوم ، یوگوسلاوی مورد تهاجم دول محور واقع شد این تهاجم مقاومت شد به کشور روبر وشد وسپس با جنگ سخت داخلی همراه گردید پس از پایان جنگ حرکت مقاومت ملی (پارتی زان ها)تحت رهبری تیتو به پیروزی رسید وجمهوری مردمی فدرال یوگوسلاوی درسال۱۹٤٦ تاسیس شد .

طبق قانون اساسی سال ۱۹۷٤ یوگوسلاویا شامل شش جمهوری بوسنی ، هرزگوین ، کرواسی ، مقدونیه ، مونته نگرو ، اسلوونی، صربستان بود ویلگراد پایتخت فدارل آن به حساب می آمد .

بعدا فروپاشی کمونیزم وتغیر در اروپای شرقی حوزه بالکان نیز دستخوش این تحولات گردید چنانچه در ۲۳ دسامبر ۱۹۹۰جمهوری یوگوسلاویا تجزیه شد .آنچه باعث ناآرامی های اخیر دراین ساحه شده است موجودیت بیشتراز دو ملیون آلبانیا ئی ها نژادها میباشد که غالباً درکوز وو وبرخی نیز عمدتاً به صورت جمعیت های متمرکز درمقدونیه غربی سکونت دارند . درکوزوو ۸٥ فیصد جمعیت ودر مقدونیه غربی تقریباً ۲۰ فیصد جمعیت را آلبانیائی ها تشکیل میدهند .

آنچه دراین رابطه قابل یادآوری است ، این میباشد که بیشترین جمعیت آلبانیائی نژادها را مسلمانان تشکیل میدهدوازهمان فروپاشی یوگوسلاویاصرب ها که اکثراً قدرت را بدست داشته اند ، همواره باسایر اقوام فدارسیون یوگو سلاویا ی سابق به منظور سیادت برآنها میباشد، بخصوص بیشترین حملات متوجه اقوام وساکنین مسلمان آن میباشد ، که اینك درآخرین برخورد ها مسلمانان آلبانیائی نژادمقدونی شکاراین سیاست اند، تا سیو نالیزم صرب میخواهند تاسیسات قرن سیزدهم خودرا دربالکان احیا نمایند .

ازسوی دیگر از لحاظ جیو پول تیکی ناتو نیز علاقمنداست بانفوذ دراین منطقه اروپارا اداره نموده ویا رژیم های دست نشانده ،ژاندارم جدیدی به اروپا تقدیم نماید.

چـــی کـــشور دافــغـانانو معطر کا
دهربیت مصرع می زلفی دخوبان کړی

دشعر او ادب نړی

دشریعت رڼا

مـــریم «ناصری» دننګرهار څخه

دتـــورو شـــپو سحره دوحدت رڼاخوره کړه
دنـــیاکـــه میـــنه میـــنه دالفت رڼاخوره کړه
مظلوم سترګـــی کړه وچی نور دزړه نوآزارمه اخله
دوخت ظـــالم په دارکه دعبرت رڼا خوره کړه
دشپانه شپول ته نغمه شه دیون سندری وایه
په فضاکی زیـــروبم شه اخوت رڼا خوره کړه
دخیال ناوی می شاړه او ویجاړه غوندی ښکاری
ښایست ته خط اوخـــال شه دزینت رڼا خوره کړه
دروس او دانګلیس غوندی می بیا دښمن سرتیت کړی
په مور د مجاهده دنـــصرت رنـــاخوره کړه
دوېری تنده زیاته هسی نه زلمی پـــه شا شی
ملاله شه تپه شـــه دغـــیرت رنـــاخوره کړه
خاونده «مریم » وایی لوړ مرام زموږ حاصل کړی
په سرا سر هیوادکی دشریعت رنـــا خوره کړه

سرزمین مهر

حمید

ازاین دیارگشته بـخون شستشو کجا ؟
پائي ننهم ، کجا بروم بیکس وتنا ؟ (تنها)
کي میرودزخاطرمن (ناله هاي ني)
کـــي دردیـــار غیر بود الفت ووفا
در تاروپو د روح وتنم این نوابجاست
شاهي که کردترك وطن میشو د گدا
نه روي خوش نه لطف نه مـــهرومروت است
اندردیار غربت ، بي دوست وآشنا
این خانهٔ که مهد وفا ومحـــبت است
دل راتوان کجاست که گرددازآن جدا
این گلستان اگر چه زبیدادروز گار
گردیده است بي گل و بي برگ وبي گیا
هرچند زخاك وآتش ودودگشته است تار
این سرزمین مهر وفا خـــاك آریا
طرم «حمـــید » امید زالطاف ذوالجلال
کاین غم شود زمیـــهن آزادگان فنا

کابل گل

دیو چادڅنوګل یم
دبدر نګو دی کو څوته
بادراو ړی له کابل یم
زړه سواند

څلوریزه

حنیفی

وله‌می په کـــابـــو چـــی دانـــی زری زری شمه
اورته تیلیٔ ورکـــه چـــی ایری ایری ایری شمه
پوه یمه مـــورنه یـــی زړه دی یخ راباندی ندی لا
زیـــــبنه رانه ویـــنه حـــوچی مړد هـــدیری شمه

کابل دویم مکروریان
۱۴۲۲/۳/۲۲

دځوانی دوارن

کریم الله کریمی
شینکی وال

ځوانی دوران ؟ځوربـــدل ؟لاړه تـــیره شـــوله
زما په خیال د خوب لیـــدل ؟ لاړه تیـــره شـــوله
جمعه یاران خو په هیڅ وخت کی مالیدلی نه دی
په تنـــنها نی کـــنبی زر بـــد ل ؟ لاړه تیره شوله
دخوشحالی صحنه هیڅوخت په ما راغلی نه ده
هـــــسی پـــه اورمـــی کړیدل ؟لاړه تیره شوله
زه لیونی لاوخوښی ته انتظار کومه
دیوان خـــانه کـــی تیریدل ؟ لاړه تیره شو له
دغه چه‌نن بی په بوکـــور په بومحل کی ویښو
داده یوی خـــولـــی خـــندیدل ؟ لاړه تیره شوله
زه په‌اخـــیرکی دخـــپل زړه دایـــوه خـــبره کـــوم
د «کـــریمـــی » ځـــان ته کتل ؟ لاړه تیره شوله

په پښتو شعرکی مذهبی څرګونه

د ثبات لیکنه او څیړنه

۷ په شپو شپو ویښ دی ، پر دپښتو اوغرو ګرزی ذکر کاندی دی وایی : « چی تاب دمظاهر و دجمال او کمال نه لرم ځکه نو تښتم » داشعاردیوان بی دېرمتین دی . (پټه خزانه ، ۱۵۵مخ)

دده په عقیده پاک زړه دخدای دمینی کور دی نو راشی چی دده دمینی په دغه کورکی دلوی خدای دمینی او معرفت دډیوی رڼا دده په څوریاعیوکی وګورو :

زړه هغه دی چی لری دعرفان برخه
دغه ښه ده پردنیا دانسان برخه
هغه زړه چی نه‌یی مهر نه عرفان وی
وری په‌ژوند کی دناځیزه حیوان برخه
محبت دآب وخاک ودی بی بنیاد
داسه څه کړی ددنیا خونه آباد
که دی زړه سپین وی دخدای له محبته
پرصحرا به‌یی بی کوره او ره ښاد
زړونه‌خوښ کړه دانیکی ده دریښتیا
مه کړه چاباندی تیرنه په‌جفا
دخدای کور مه‌ورانوه په‌ستمو
دخدای کور وګڼه زړه ، چی وی صفا
(پورتنی اثر ، ۱۵۶ مخ)

دلته پاک زړه (دخدای دمینی کور) دلوی خدای هغه حکم مورته داپادوی چی دمکی معظمی یعنی حضرت ابراهیم خلیل الله ته‌یی دبیت الله ترودانولو وروسته دفرمایه چی کلیه بی په دی دری بیت کی ډېره ښه وړاندی شوی ده :

دل بدست آور که حج اکبر است
از هزاران کعبه یک دل بهتراست

دلوی واعظ ملا محـمد حافظ بارکزی په وعظو نو کی دامر بالمعروف او نهی عن المنکر څرګند تګی

داعالم دمحمد اکبر بارکزی زوی دی چی دقندهار په ښکتنه خواکی اوسی ، مروجه علوم‌یی لوستی ، په‌فقه کی استاد دی او په‌جامعګانو کی دجمعی په‌ورځ وعظ کوی نو ځکه په‌لوی واعظ مشهور دی یوکتاب‌یی کښلی دی چی‌نوم یی دی «تحفه واعظ »او په‌دی کتاب یی دتقوی او زهد وعظو نه کښلی دی .

(پټه‌خزانه ، ۱۵۸ مخ)

دایی‌هم « تحفه واعظ » څخه یو دوعظیه بدله
کم بخته مه‌کړه پردنیاډونګونه
که‌دی زړه غواړی دجنت ګلو
کم‌بخته موږیو میلمانه پردنیا
وطن مو بل دی اخر ځوپه ریښتیا
هم‌په‌ښه بد شی دامعلوم په عقبا
نو له‌سره اورکۍ په‌امان ځانونه
کم‌بخته مه کوه حرام چی بددی
چی کړی حرام هغه باطن کی دد دی
اعمال بی تول په عقبا کی رودی
په‌لویه ورځ بی مخ د ی تور مخونه
کم‌بخته ! مکوه حرص ، قرارشه
ثنا درب کوه ، صبور په کارشه
توبه ددین وړه ، په‌دی کار ویارسه
چی بی توبی نه‌سی پیدا ، سودونه
کم‌بخته ! مه‌څه دحرام په‌لوری
خدای‌به‌و ناته په‌غضب وګوری
که‌دی زړه غواړی ښایسته ښی حوری
بیځایه مه‌ړده‌بی پروا پڅلونه
(۱۵۸، ۱۶۰مخونه)

امر ونهی چی د لوی خدای په‌اسمانی کتاب او یزدانی قانون کی په کراتو مراتو تذکار موندلی دی په پښتو ادب په تیره بیا په اشعاروکی ددی اسلامی ښوونی ورانګی خورا تیتی ښکاری او دجهالت او غفلت دتور تمونو لاری یی رڼا کړی دی .

ملا نور محمد غلجی او دهغه دینی نصحیت

په‌خزانه نوموړی داسی معرفی کړی دی

مشهور دی په‌غلجی او په‌غلجو کی توخی دی دملا یارمحمد زوی دی او په‌ځوانی کی اوسی ، علوم شرعیه‌یی ویلی دی او تدریس کی نورمحمد اشعار هم لری یو کتاب‌یی کښلی دی په‌نامه د « نافع مسلمین » او په‌دی کتاب‌یی احکام شرعیه بیان کړی دی . داکتاب‌یی هم‌کیګی دی په‌نامه دپادشاه جمجاه شاه‌حسین او له‌معتبرو کتابو دفقه او اخلاق اخسته کړی دی .

دمشکوة شریف ، بخاری شریف ، هدایه اوکنز او طریقه محمد یه او نورو مروجو کتابونو په‌تدریس کی بـه غښتلی دی (۱۶۲، ۱۶۴ مخ) په اسلامی تبلیغ کی نصحیت خورا ګټوره غنا لری همدانصـیحت دی چی یو مـسلمان ته دمـسـتقیـمی لاری افـقونه وربښیی ، دګمراهی او بی دینی له‌مصیبتونو څخه‌یی ژغوری ، دلته به‌دملانورمحمد یو نصـیحت رانقل کړو چی دمخمس په ادبی صنعت کی خپلی ازانګی خپرولی او دمومن زړه ته‌وړانګی وررسولی شی .

پاتی لري

څـــه یم ؟

سوررودی

ته شـــاعـــراونـــه لکیوال ته انځورګریم
چـــاپـــیریـــال خوروتر خونه بیخبریم
دپیـــو زلـــویده ورځ ته مـــی پـــام نشته
دقـــدرت دخـــاونداتـــوتوره سپر یم
سهاوون او ســـورشـــفق ته سترګی خړی
ننـــګ اوشـــرم دمـــاښام او مازدیګریم
مـــاتمو نـــوکی لوی شوی احساس مړدی
کـــله پـــوه پـــه مـــحرم او پـــه اختریم
کـــله سپنـــد پـــه څیر بیواکه یو بهیر شم
کله ځـــای پـــه ځای ولاړ دکانوغریم
یو وخت هیرمی تول ارزښتونه پخوانی شی
بـــل مـــهال کی بیا پری تیرترمال وسریم
دژوند هـــیلی می ورموپه څیرخوری دی
پانی پـــانـــی ترمی ترمی بودفتریم
خپل ماغزه راڅخه هیروجدان ویده دی
دپردود لاس وســـله دځـــان خطریم
سپـــمه سپـــمه می پردو کـــنډرکنډ رکړل
زه لاخـــوښ هـــم په پر دو هم په کنډ ریم
کـــه وګـــــری دهیواد زما یو زړه شی
تو به زه لـــکه پخـــوا اتـــل نسګریم
هـــره شـــپه به مـــی برات وی دخوابښو
هره ورځ به دمـــستی هســـتی اختریم
ایادی دخـــپل هیـــواد ته کـــه می مخ شی
زه هـــم لـــعل او هم جو هراو هم سور زریم
بـــم بـــو کـــان دمـــعرفت دشتمیو
دهســـتی دسمـــندر نایـــاب ګو هریم
(ســـوررودیـــه)دازل پـــه قلمروکی
دصنعت او معرفت عـــالی مـــظهریم

دعـــا

محمد حکیم نظری

یـــارب ! نـــظری به حالت خوارم کن
آزاد مـــرازپیـــشه وکـــارم کـــن
آنیـــکه همـــین لحظ به دل میګذرد
پیـــوستـــه نهادم کن وسرشارم کن
جام زمـــی لبی به من ساز نصیب !
مستـــم کـــن وغوغـــاګریازارم کن
بـــګـــذارمـــرابـــداغ سوزنده ګری
وزآتش عشـــق خـــود خبردارم کن !
زیبـــا چمـــنی ګلـــی نصیبم ګردان
حـــمراســـفتی غـــود ګـــلزارم کن
بنماچوزلیـــخـــاتو به خوابم یوسف «ع »
بـــازار مـــرابـــر خریدارم کن
فـــرهادشـــوم که تیشه برسربزنم
منـــون صفتم به دشـــت درکارم کن
ګفتا «نظری » اګرچه ناقـــص ګفتم
یـــارب نګـــهٔ به سوی ګفتارم کن

سکوت خیال

ذکیه قدیر وردګ

تو میروی
من تنهامیشوم
افسرده غم های بی انتها
مونس اشك های لغزان وبیصدامیشوم
همدرد درد های جانسوز
هم نواي بی نوایان میشوم
مسیر رنج هابیرحم
زنده دار شب های ظلمت زاء میشوم
همرازافسران مغرور
هم نګاه تصویرخیال تو میشوم
چون تو میروی
من تنها میشوم

دســـزاتېغـــرپه پیـــڅه

بخي ګلمزی

کـــه دستـــورو جرګی ناستی دسمـــا تغرپه پیڅه
بوه زړه دوبالشته چه فردوس له خدایه «ج » واخلی
دنغرت په بالا ګوتوبی چیچی خوب بی په سرشو
جایی اوښګی پاکی نه کړی چاتـــل دزړه ورنه کړ
سربه بیلو چه کالی بی دغـــــیرت کړل راپه غاړه
هیـــڅ بی شـــمار درنګو نشی داداتـــغر په پیڅه
څوک دمیـــنی په سیکو چه دروا تـــغر په پیڅه
طفل ژوند مـــی په ســـــلګودی دسزاتغر په پیڅه
چـــه دنن پـــه مړی وبرکـــه دصبا تغر په پیڅه
خدای «ج » له موره چه پیدا کړو دبابا تغر په پیڅه

په دی ښـــارکی مو څوک نشته موږ دروغودوستی نه زده
دجنـــــون پـــــه میـــلمستیا یو دبیدیا تغرپه پیڅه

حقیقي غـــل

ګل پاچا الفت

په رڼا ورځ بي ډېرو خلکو په مخکی
ډېر څه له موږ نه پټ کړه .
ستاخوبنه چی غل ورته وایي که نه !
زه خو بي غل بولم .
هو ! غل دي مګر دپولیـــسانو په نظر
کی نه .
ددي غله لاس قـــاضي او مـــفتي نه
پریکوي .
هـــیڅوک داغل نه نیـــسي او نه‌یي
بندي کوي .
ددي غله په‌زېره خلي نشته .
ده ډېر څه‌له‌ مـــوږ نه‌پټ کـــړي دي او
ډېر زیان‌یي راا ړولي دي ده له‌مـــوږ
نه سره او سپین نه دي پټ کړي
دي ډېر لوي غل دي .
دده غلا ډېره لویه او ستره غلاده .
دي مال نه پټوي .
دده غلاته په عادي نظرمه ګوي !
دي زموږ پیـــسي نه پټوي .
ده ته دمـــال او دپیـــسو غل نه شـــو
ویلاي
دي نور څه پټوي او ډېر مهم
څه پټوي .
دي له مـــوږ نه خـــپل ځان
او خپل بد بد کارونه پټوي .
دي خپل حقیقت او ماهیت
پټوي .
ځان پټول او حقیقت پټول
ډېره لویه او ستره غلاده داغلادېوه
مات او مملکت کورو رانوي او ملکونه
برباد وي .
داغل سترګي پټوي .
په‌سترګو نوزي .
له سترګو او سترګوروسره دښمني
لري
هو ! داغل له‌ســـترګو نه‌را نجـــه نه
پټوي ، سترګي پټوي دي له‌موږنه
ډېرحقایق پټوي او د حقیقت غل دي
، ده ته باید حقیقي غل ووایو (۱)

نامه های وارده

آیا بدون داشتن کتاب آموزش صورت میگیرد؟

به اداره محترم روزنامه شریعت ارگان نشراتی مرکزی امارت اسلامی افغانستان
السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته !

جای افتخار است که روز نامه شریعت درتلاش آن برآمده تا مشکلات مردم رابه گوش مسوولین برساند وراه حل پرابلم های مردم را جستجو میکند.

خواستم از طریق شما مشکل مردم راکه تقریباً سر تا سری وهمگانی است خدمت مسوولین وزارت معارف خصوصاً شخص متقی صاحب برسانم تا باشد دررفع آن اقدام نموده گام دیگری را در راه بهبود پروسه تعلیم وتربیه بردارند .

قبل براین وزارت معارف درمنزل تحتانی خویش یك کتابخانه مجهز ویك کتاب فروشی یی داشت که اکثرکتب مدارس را والدین اطفال از همان جا دستیاب میشدند فعلاً که دراثر تلاش مسوولین وزارت معارف نصاب تعلیمی جدید طرح ومطابق آن کتب جدید درمطبعه معارف طبع گردیده که شاهد این مدعاگزارش نشر شده مطبعه معارف در شماره ٤۲۲ روزنامه شریعت است که این مطبعه تاحال حدود (۸۵۰۰۰۰) کتب درسی مدارس را چاپ ودسترس طلاب کشور قرار داده است بناً تقاضا میشود اینکه وزارت محترم معارف باید کتاب فروشی قبلی خویش را احیا وکتب مدارس رادرانجا به فروش برساند زیر اکتب جدید در بازارآزاد پیدا نمی شوداگر احیاناً برای یك طالب از طرف مدرسه کتاب داده نشود ویا کتاب داده شده از نزدطالب مفقود گردد نه باید طالب مذکور تا اخیر سال بدون کتاب به مدرسه برود ، درحالیکه اگر وزارت معارف ویا مطبعه معارف چنین کتاب فروشی یی را داشته باشند اولیای طالبان بدون در سر میتوانند کتاب مورد نیاز اولا دخویش رادستیاب گردند، باید خاطر نشان سازیم که فروش کتب مدارس را وزارت معارف باید در انحصار خود داشته باشد واجازه نه دهد تا استفاده های سؤاز خریدو فروش آن صورت گیرد به امیدموفقیت های مزید منسوبین معارف .

والسلام جان محمد جوانشیر

به اداره محترم روزنامه شریعت :
السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته !

اینجانب بعنوان یك شهروند شهرکابل میخواهم نکات آتی را غرض آگاهی مسوولین WFPدرکابل برسانم :

نخستین مراحل پروگرام توزیع نان ارزان قیمت از جانب WFP درکابل خیلی با نتیجه و درخور قابل ملاحظه بود ، اما بتدریج فساد مالی وسؤ استفاده های شخصی درآن رخنه کرد ، البته نقش عمده منفی را درین زمینه NGO های مربوط به شاخه های این پروگرام بازی کردند که تاهنوز هم این فساد قویاً جریان دارد همین NGO ها به خبازی ها ی خویش دستور دادند که نوت های پنجصد افغانیگی دیگر اعتبار چلند ندارد وهمین NGO ها بودند که سبب شدند تا قیمت فی قرص نان از ٤۰۰ افغانی به ۸۰۰ افغانی بالا برود واگرهمین NGO ها دیری دیگر درصحنه باقی بماندشاید که ....

نشانه های بارزموجوداست که خبازی های WFP درکابل از جانب همین NGO ها به خبازان قسم سر قفلی داده میشود . بعنوان مثال مالك خبازی نمبر ۳۵ همیشه دربرابر اعتراض شدید مردم مبنی بر بی کیفیت بودن نان صریحاً اعلام میداردکه من با دادن یك مقدار پول گزاف به جانب موسسه مربوط امتیاز این خبازی را بدست آورده ام ، فلهذا سروصداهای میان تهی شما هیچگاهی جایی را گرفته نمیتواند . گذشته از این استفاده کنندگان این کارت ها خوب میدانند که کنترولران ثابت درخبازی‌ها وگزمه های سیار وهمیشه گرسنه این NGOها به اصطلاح باحق وحساب مقررمیشوند ودست شان با مسوولین موسسه های مربوط یکی است . البته درین زمینه شواهد زیادی موجوداست ویگانه مرجع که از این رشته ساخت وبافت آگاهی ندارد و تاحال غلط تلقین شده است همانادفتر WFPاست . کیفیت نانی که روزانه درین خبازی ها برای مردم توزیع میشود تاکیفیت آن نانی که چند دقیقه قبل از وردو هئیت خاصWFP به جانب آن خبازی پخت میشود زمین تا آسمان فرق میکند . این امر خود نشان میدهدکه درین قسمت دست همه از خباز گرفته تا مونیتور، از مونیتورتا سوپروایزر و از سو پرایزر تا ... یکی بوده ویگانه کسیکه درین میان پامال ومتضرراست هیمن استفاده کنند گان اند که از دست شان هیچ چیزی پوره نیست وصدای شان هم به جایی نمیرسد ، بناً پیشنهاد من ازاداره WFP اینست که اگر میخواهد واقعاً حق را به حقداربرساندباید دست این NGO های استفاده جو راازدامن پاك خویش دور ساخته بعداز این کاری کند که خود مستقیماً با استفاده کنندگان داخل تماس باشد تا بتواند ازاین طریق هم لعل رابدست آرد وهم دل یار را نرنجاند والسلام

گلجان از حصه دوم کارته پروان

برادر محترم گلجان ! نامهٔ تانرا با ایدت اندك نشر نمودیم علی الرغم انیکه توجه مسوولین پروگرام غذائی جهان (WFP) را درزمینه خواهانیم انتظار واکنش شان رانبزلحظ شماری میکنیم اداره

دپوهني وزير ...

عبدالعلي دیوبندی او دکندهار ولایت دجهادی مدرسی داستادانو او طالب العلمانو په گډون جوړه شوی وه دپوهنی محترم وزیر دښوونی او روزنی دارزښت او نتیجو په باب خبری وکړی او زیاته یی کړه ځوانان او تنکی ځوانان دهیواد د راتلونکی جوړونکی دی له دی امله لازمه ده چی دمدرسو طالب العلمان داسلام دمبین دین د لارښونو په رڼاکی دعلومو په زده کړه او دخپلو ذهنونو په روښانه کولو کی هڅه اوهاند وکړی اوله هغو لازمو شرایطو څخه زیاته استفاده وکړی چی دپل هروخت په نسبت داسلامی امارت لخوا برابر شویدی محترم متقی طالب العلمان هغو مسوو لیتونو ته چی دتولنی او هیواد په وړاندی یی لری متوجه کړل او له هغوی څخه یی وغوښتل چی په بشپړ جدیت سره دعلم او پوهی دزده کړی په لاره کی هلی ځلی وکړی او په راتلونکی کی خپل هیواد او خلکو ته دخدمتو نو جوګه شی .

امنيتي راکه ...

دولت چین که پس از سفر خویش از افغانستان دریك کنفرانس خبری اشتراك نموده بود بیان داشت که قبل از اینکه به افغانستان سفر نمایم به این عقده بودم که درانجا هیچ امنیتی نخواهدبود اما زمانیکه به افغانستان سفر نمودم همه واقعیت هارا به چشم سر مشاهده نمودم که طالبان درکشورخویش یك امنیت سرتاسری راتامین نموده اند .

وی درجواب سوال یك خبر نگار گفت: درافغانستان امنیت بی مثال است وضع آرامی راکه طالبان درکشور تامین نموده اند همسایگان افغانستان هم تاحال از این قسم امنیت وآرامی درکشور های خود عاجزمانده اند ، تانگ یانگ گفت هدف اصلی سفر من به افغانستان بررسی اوضاع سیاسی ونظامی انکشور وفعال ساختن توربین سوم بند کجکی ولایت هلمند بود که درآینده نزدیك توربین سوم بند کجکی فعال ساخته خواهدشد.

نامبرده افزود که تعزیرات سازمان ملل بر کار های ما اثر انداخته نمی تواند ، من به تمام مردم افغانستان میگویم که درمقابل تعزیرات سازن ملل وارخطانه شوند واز صبرواستقامت استفاده نمایند . سازمان ملل چهل سال برمردم چین تعزیرات را وضع نموده بود اما مردم چین با صبر وشکیبایی آنرا بی اثر ساختند ، من با ورکامل دارم که مردم افغانستان هم باهمت والای خویش تعزیرات را بی اثر خواهند ساخت.

درغزني يک مقدار ...

امنیتی ولایت غزنی شش میل کلا شینکوف ،یك میل تفنگچه تی تی ، سه میل تفنگ، هفتصد فیر مرمی کلاشینکوف از مربوطات ولسوالی واغز ولایت غزنی کشف و بدست آمده است .

ورکشاپ بررسي ...

مرکز تربیوی موسسه ماین پاکی ام دی سی به اشتراك چهل نفر از نماینده گان وزارتهای پلان، زراعت ، فواید عامه ،ریاست های پما ،احیا وانکشاف دهات، پوهنتون کابل ، اکادمی علوم، حفظ ومراقبت مکروریانها ، شاروالی کابل و مسوولین انجوهای غیر حکومتی داخلی وخارجی تدویر یافته است هدف از تدویر این ورکشاپ بلند بردن سطح اگاهی مسوولین مذکور در مورد محیط زیست وضمیمه ساختن اساسات ایکو لوژیکی در دوران ومراحل مختلفه پروژه ها وبرنامه ها ی انکشاف و احیای مجدد میباشد.

تفاوت ميان بانكنوت ...

این سیمینار که به ابتکار وزارت امورخارجه امارت اسلامی قبل از ظهر یکشنبه بیست وپنجم ربیع الاول درهوتل انتر کانتیننتال دایرگردیده بود درآن بشمول نمایندگان وزارت خانه های مالیه ، عدلیه، داخله ، ستره محکمه دافغانستان بانك واستخبارات ، جمعی از صرافان مرکز و ولایات کشور نیز اشتراك ورزیده بودند .

منبع می افزاید: اشتراك کنندگان سیمینار هرکدام باالترتیب نظریات شان را پیرامون فعال شدن سیستم انتقالات چکی وبانکی درکشور، ایجاد بانك شخصی ، پیشگیری سیستم حساب جاری درتمام بانك های امارتی ، هکذا اتخاذ تدابیر امنیتی فوق العاده درمارکیت های صرافی مرکز وولایات، ارائه داشته که در خاتمه غرض تقویه وتحقیق عملی این اجندا ،از جانب اشتراك کنندگان صرافان پیشنهادات مشخص به جانب مقام امارت اسلامی پیشکش گردید. البته درزمینه از جانب مقام امارت اسلامی اقدامات لازم وعملی اتخاذخواهد شد

مهربان

په حربي پوهنتون کي ...

خبراکر په هغی غونډه کی چی له همدی امله جوړه شوی وه دحربی پوهنتون قوماندان محترم مولوی غلام نبی حق پرست داسلامی امارت دعلمی او فرهنگی پالیسی په باب خبری وکړی په دی کنډونو کی چی پنځه سوه توګه دول دول دینی، علمی ،اقتصادی ،اجتماعی ،سلکی اونور کتابونه شته دملی دفاع وزارت دښوونی او روزنی ریاست په مرسته بیا جوړ شویدی . یومسؤل خبر ځای دخبر له مخی ددغه کتابتون پرانیستل به ددغه پوهنتون داستادانو او محصلانو دنظامی ژوندانه په باب ارزښتناک رول ولوبوی.

جالب وخواندنی

گیاه هوشمند کشف شد

محققان مرکزفضایی امریکا «ناسا» موفق به کشف نوع گیاه هوشمند شده اند به گفته محققان ناسا این گیاه میتواند با انتشار یك نور درخشان پیام هایی راازسطح مریخ به زمین بفرستد. ارتفاع این گیاه هوشمند تقریباً بیست سانتی متر وعمرآن نیز یك ماه است .دانشمندان مرکز فضایی ناسا جینهای خاصی رابه این گیاه پیوند زده اند هریك از این جینها به خشکسالی وگرمی هواعکس العمل نشان میدهد . دانشمندان معتقد اند کشت این نوع گیاه درمریخ نخستین گام برای قابل سکونت شدن این سیاره برای انسانها به شمار میرود .

حمله قبلی باعث خساره عضلات قلب نمی شود

درسابق فکرمیشد وقتی کسی حمله قبلی کند خساره که عضلات قلب می بیند دائمی است وجبور نمی شود اما دراین اواخر دانشمندان طب اعلام نمودند که تحقیقات جدید طبی نشان میدهد که قلب بعداز حمله قبلی کوشش میکند که نقاط صدمه دیده را خودش ترمیم کند دانشمندان این راهم اعلان نمؤدند که برای کسانیکه خون شان لخته نمی شود مژده داده میشود که میکانیزمی از طرف دانشمندان طبی ساخته شده که خون را لخته میسازد و از خونریزی بدن جلو گیری میکند .

په گردېزکي د ...

تیرکال کی د خپلو بشر دوستانه فعالیتونو په دوام دگردیز ښار داوبو رسولو شبکه چی زیا نمنه او له گټی اخیستنی وتلی وه ددغه ولایت دکلیو دبیا جوړونی او پراختیا ریاست په همکاری بیا جوړه شوه چی دهغی دبیا فعالیدو له امله دوه زره شپږ سوه کورنی او دگردیز ښار کسیگر دڅښاک له روغتیا یی اوبو څخه برخمن شویدی .

اطلاعيه رياست ...

نموده است . اگر میخواهید از حوادث ورخدادهای ملی وبین المللی مطلع گردید هرگاه علاقمندن مطالعه مضامین علمی ، ادبی ، وتاریخی میباشید اگرآرزو دارید که ازرخدادها ی و انکشافات سیاسی ، اجتماعی ، نظامی ،فرهنگی ، اقتصادی ، ملی وجهانی هرچی بیشتر معلومات حاصل نمائید. به این مجلات اشتراك نماید .

مجلات ،کتاب خلاقت ،قندهار ،ننگرهار ، کوټه مرجع اشتراك درکابل :

ریاست توزیع روزنامه هاوجملات درولایات ریاست های اطلاعات وکلتور

درمورد وجه اشتراك مجلات مذکور میتوانید با ریاست توزیع روزنامه هاومجلات ویا تیلفون ها ی شماره (٦۲۸٥۹،٦۲۸٦۷) درتماس شوید .با استفاده از فرصت خود را مشترك دایمی مجلا ت سازید شما میتوانید در اسرع وقت مجلات مورد علاقه خویش را دستیاب نماید

يک زن اختطاف ...

توسط مؤظفین حوزه نهم امنیتی در ناحیه پنجم دستگیر گردید قضیه درمدیریت مبارزه با جرایم جنائی ولایت کابل تحت بررسی وتحقیق قرار دارد ،

دمجاهدينو په ...

دمحترم مولوی محمد یونس آخند زاده په مشری په تیرو دریو ورځو کی دنوی او زاړه سرک استقامتونو کی دمجاهدینو دقرارگاوو کتنی په ترځ کی ددغو هیات لخوا الهی حکمونه او نبوی «ص» احادیث بیان شول او له مجاهدینو څخه وغوښتل شول چی په ښه نیت او پرهیزگاری سره دخپلو خلکو او وطن خدمت وکړی .

مخالفين دربنگله ديش ..

براساس گزارش های دریافت شده اکثر مغازه ها ، ادارات دولتی ومدارس در بنگله دیش تعطیل بوده وتدابیر امنیتی پولیس در شهر داکه پایتخت انکشور شدیدشده است موتر حامل خالده ضیا رهبرمخالفان حکومت یك روز پس از نفجار بم دردفتر حزب حاکم بنگله دیش یعنی حزب عوامی لیگ موردحمله مسلحانه قرارگرفت درحادثه انفجار یادشده بیست ودو نفر به قتل رسیده و چندین تن دیگر زخمی گریده بودند

امريکا در تلاش ...

دارتصام میکند مامورین فضایی امریکا با استفاده از این تصادم ترکیب ساختمان وتفاوت سطح وقسمت های داخل ستاره دنباله دار را معلوم میکنند .

دامريکاسپاسي او ...

راکیونه به دهغوی په حال کی کوټ بملون رانه ولی .

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

SHARIAT DAILY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor:
Alhaj Mulla Assadullah ,Hanifee,
Editor: Ghulam M. Farooq